امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



هفته نامه

# مدیریت حوادث

۱۹ الی ۲۵ جدی ۱۴۰۴

شماره یکصدو سی و نهم


## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د اکتېډ مؤسسې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د اکتېډ مؤسسې له عمومي رئیس محترم هانس کریستېن جوهانس، د بهرنیو اړیکو او هوکړه لیکونو له مسؤل محترم محمد اجمل کامران سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د زیانمنو کسانو د لاسنیوي په اړه یې خبرې وکړې.

ادامه در صفحه۲

## رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با مسئولان مؤسسه نابینایان افغانستان و مؤسسه معلولین ولایت بلخ دیدار کرد



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در دفتر کارش با شماری از مسئولان و اعضای مؤسسه نابینایان افغانستان و مؤسسه معلولین ولایت بلخ دیدار نموده ...

ادامه در صفحه ۵

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د هیلوټرسټ نړیوالې مؤسسې د آسیا برخې له نوي رئیس او د هغه له مل پلاوي سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د FSCWEO مؤسسې د اړیکو له مسؤل محترم مزمل دراني سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۶ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل...

ادامه در صفحه۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د بشري مرستو د همغږۍ مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د بشري مرستو د همغږۍ مؤسسې (OCHR) له اجرائیوي رئیس انجنیر عبدالبصیر حقمل سره وکتل ...

ادامه در صفحه ۳

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د اکټیډ مؤسسې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د اکټیډ مؤسسې له عمومي رئیس محترم هانس کریستن جوهانس، د بهرنیو اړیکو او هوکړه لیکونو له مسؤل محترم محمد اجمل کامران سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د زیانمنو کسانو د لاسنیوي په اړه یې خبرې وکړې.
محترم ترابي صاحب وویل، چې موږ د مؤسسو لپاره په مرکز او هم په ولایتونو کې ټولې آسانتیاوې برابرې کړې دي، تر څو وکولای شي د خلکو ستونزو ته په ښه توګه رسېدنه وکړي او زیاته یې کړه که چیرې دوی له اړوندو نورو امارتي ادارو او وزارتونو سره په کومه برخه کې ستونزې لري کولای شو تر یوې اندازې یادې ستونزې راکمې کړو. هغه همدارنګه وویل، چې د اړینو اړتیاوو لېست، چې په حقیقت کې د خلکو او سیمو اړتیاوې دي، ترتیب شوی دی، چې دغه لېست به له تاسو سره شریک کړو، تر څو یې د ۲۰۲۶ کال په خپلو پروګرامونو کې په پام کې ونیسئ.
په همدې حال کې، د اکټیډ مؤسسې رئیس محترم هانس کریستن جوهانس وویل، چې دوی د ترابي صاحب له کاري مخینې او د دې ادارې له موخو سره له پخوا اشنا دی، هغه د مؤسسو سره د دې ادارې له همکارۍ او د کارونو د پروخت خلاصېدو څخه ځانګړې مننه وکړه. نوموړي وویل چې د روان کال لپاره به د یاد لیست اړوند فعالیتونه د امکان تر کچې په خپل پلان کې ځای پرځای کړي او له اړوندو ډونرانو سره به یې هم شریک کړي او زیاته یې کړه، چې دا لیست به له دوی سره د دوی په پلان جوړونه کې ډېره همکاري وکړي.
همدارنګه نوموړي، د خلکو د اړتیاوو لېست ترلاسه کړ او ویې ویل، چې د دې اړتیاوو د پوره کولو او په خپل راتلونکي پلان کې د شاملولو لپاره به خپلې وروستۍ هڅې وکړي.
په پای کې، ترابي صاحب د یادې مؤسسې د خدمتونو د قدر په توګه د اکټیډ مؤسسې رئیس ته یوه ډالۍ هم ورکړه.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د بشري مرستو د همغږۍ مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه لاسليک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، په خپل کاري دفتر کې د بشري مرستو د همغږۍ مؤسسې (OCHR) له اجرائيوي رئيس انجنير عبدالبصير حقمل سره وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه يې ورسره لاسليک کړه.

محترم ترابي صاحب وويل، څرنګه چې دا پروژه د ژمنيو مرستو پورې اړه لري، نو لازمه ده چې په چټکۍ سره د پلي کېدو لپاره جدي هڅې وشي، تر څو خلک وکولای شي پر وخت ترې ګټه واخلي.

همدارنګه، د يادې مؤسسې رئيس عبدالبصير حقمل د روانې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل، د پخوانيو همکاريو له امله يې له ترابي صاحب څخه مننه وکړه او زياته يې کړه چې د مرستو د وېش پر مهال به شفافيت او چټکتيا په پام کې ونيول شي.

په پای کې د دواړو لوريو ترمنځ ټولټال د شپږ نوي زره (۹۶،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه لاسليک شوه، چې له مخې به يې ياده مؤسسه د کونړ ولايت په نورګل او څوکۍ ولسواليو کې د زلزلې له امله زيانمنو شويو ۴۰۰ کورنيو ته د ژمنيو مرستو بستې ووېشي او په هره بسته کې به پنځه تختې کمپلې، دوه جوړه د لويانو پشمي جمپرونه، پنځه جوړه د ماشومانو پشمي جمپرونه، دوه د ښځو پشمي چادرونه، دوه د نارينه‌وو پشمي پټو، دوه جوړه د لويانو بوټان، څلور جوړه د ماشومانو بوټان، دولس جوړه د لويانو او ماشومانو جورابې، څلور جوړې د ماشومانو دستکشونه او څلور د ماشومانو ګرمې خولۍ شاملې وي، همدارنګه د پوهاوي بنرونه او بروشورونه به هم چاپ شي.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د هیلوټرسټ نړیوالې مؤسسې د آسیا برخې له نوي رئیس او د هغه له مل پلاوي سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ رئیس، محترم قاري نورالدین رستم‌خیل او د نړیوالو اړیکو رئیس، مولوي عبدالرحمن رحماني په شتون کې، د هیلوټرسټ نړیوالې مؤسسې د آسیا برخې له نوي رئیس، ښاغلي راجر استرینګر، د افغانستان د دفتر له رئیس، ډاکتر احمد فرید همایون او د دفتر مرستیال، احمدالله سالار سره وکتل او خبرې یې وکړې.

محترم ترابي صاحب وویل، چې د هیلوټرسټ مؤسسه د ماین پاکۍ په برخه کې زموږ له ښه همکارانو څخه ده او د هغوی فعالیتونه د ستاینې وړ دي. هغه زیاته کړه، چې د تېرو جګړو له امله د افغانستان ځینې سیمې په ماینونو او ناپیژندل شویو چاودېدونکو ککړې دي او باید پاکې شي. نوموړي همدارنګه وویل، چې امکان لري تاسو په ځانګړو شرایطو کې په نورو برخو کې هم له موږ سره همکاري وکړئ، او موږ د دې ادارې د اړتیاوو لړلیک چې د خلکو اړتیاوې دي، له تاسو سره شریک کړ، تر څو په خپلو پروژو کې یې په پام کې ونیسئ او همدارنګه د ډونرانو له لورې د افغانستان د خلکو د خدمت لپاره نورې بودجې ترلاسه کړئ.

په ورته وخت کې، د هیلوټرسټ نړیوالې مؤسسې د آسیا برخې نوي رئیس، ښاغلي راجر استرینګر وویل، چې ډېر ویاړ لري چې د دې زمینه برابره شوه، چې له افغانستان څخه په لومړي ځل لیدنه کوي او خوشحاله دی چې هیلوټرسټ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سره کار کوي. هغه وویل، چې د مؤسسې بریا د دې ادارې د ملاتړ له امله ده او د هیلوټرسټ موسسې اساسي دنده دا ده، چې د خلکو ستونزې له ډونرانو سره شریکې کړي، تر څو هغوی دې هېواد ته نورې بودجې ځانګړې کړي. د هغه په وینا، په پروژو کې زموږ لومړیتوب هم هغه سیمې دي چې د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست له لورې د لومړیتوب په توګه ورته سپارل شوې دي.

# رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با مسئولان مؤسسه نابینایان افغانستان و مؤسسه معلولین ولایت بلخ دیدار کرد



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در دفتر کارش با شماری از مسئولان و اعضای مؤسسه نابینایان افغانستان و مؤسسه معلولین ولایت بلخ دیدار نموده و از نزدیک نظریات، پیشنهادات و مشکلات آنان را استماع کرد.

محترم ترابی صاحب با خوش‌آمدیدگویی به هیئت اشتراک‌کننده، گفت که معلولان بخش مهمی از جامعه را تشکیل می دهند و رسیدگی به مشکلات آنان یک مسئولیت انسانی، اجتماعی و اسلامی می‌باشد. همچنان رئیس عمومی این اداره اطمینان داد که پیشنهادات و خواست‌های مطرح‌شده، در چارچوب امکانات و صلاحیت‌ها، مورد بررسی قرار خواهد گرفت.

هم‌چنان به نمایندگی از سایر اعضا، محترم سید محمد یزدان‌پرست، مسئول روابط عمومی مؤسسه نابینایان افغانستان، صحبت نموده و ضمن قدردانی از توجه و همکاری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و ریاست آمادگی مبارزه باحوادث ولایت بلخ، محترم ترابی صاحب را شخصیتی وطندوست و مجاهد توصیف کرد. وی تأکید نمود که معلولیت به‌هیچ‌وجه به معنی ناتوانی نیست، بلکه افراد دارای معلولیت می‌توانند در صورت فراهم‌شدن زمینه‌ها، نقش مؤثر و فعال در جامعه ایفا نمایند.

آقای یزدان‌پرست همچنان افزود که بر اساس آمارها، حدود ۱۳.۹ درصد نفوس افغانستان را افراد دارای معلولیت تشکیل می دهند و این رقم نشان‌دهنده ضرورت توجه جدی نهادهای دولتی به این قشر می‌باشد. وی خواستار افزایش همکاری‌ها، ایجاد برنامه‌های حمایتی و در نظر گرفتن نیازهای خاص معلولین در برنامه‌های آینده امارت اسلامی شد.

در اخیر ترابی صاحب به تمام معلولین و معیوبین حاضر کمک نقدی نموده و آنان نیز به پاس حرمت و قدردانی، مصحف مبارک قرآن کریم را به رئیس عمومی اداره هدیه نمودند.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د هېواد له یو خیرخواه کس سید احمد سیلاب سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاري دفتر کې د هېواد له یو خیرخواه کس سید احمد سیلاب سره وکتل، او دواړو خواوو د طبیعي او غیر طبیعي پیښو له امله زیانمنو شویو خلکو او مستحقو کورنیو ته د اغیزمنو مرستو د رسولو په اړه نظرونه تبادله کړل.

په دې ناسته کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د خیرخواهانو کسانو د همکارۍ او هڅو ستاینه وکړه، او د زیان منونکو خلکو د درد او ستونزو په کمولو کې یې د خیرخواهانو او خیریه بنسټونو د رول پر اهمیت باندې ټینګار وکړ او ویې ویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره تل هڅه کوي چې د خیرخواهانو او بشري بنسټونو د همکارۍ په جلبولو سره اړمنو ته شفاف او پر وخت مرستې ورسوي.

همدارنګه، محترم سید احمد سیلاب د دې لیدنې څخه د خوښۍ څرګندولو ترڅنګ، د زیانمنو خلکو سره د مرستې په برخه کې د همکارۍ لپاره خپل بشپړ چمتووالی اعلان کړ او ټینګار یې وکړ چې له اړمنو وګړو او له پېښو څخه اغیزمنو کورنیو سره مرسته کول یو انساني او دیني مسؤلیت دی. هغه ډاډ ورکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سره په همغږۍ کې به تر ممکنه حده د مستحقو کورنیو ملاتړ ته دوام ورکړي.

په پای کې، پداسې حال کې چې دواړو خواوو د مستحقو سره د چلند په برخه کې د همکارۍ په پیاوړتیا ټینګار وکړ، محترم سیلاب دوه زره جوړې لوړ کیفیت لرونکي بوټونه د دې ادارې سره مرسته وکړل.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماين پاکۍ او بیا جوړونې اومر مؤسسې ترمنځ تولټال د (۳۷۷،۱۹۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ماين پاکۍ او بیا جوړونې اومر مؤسسې له رئیس، محترم فضل‌الکریم فضل سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۳ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب د مؤسسې پلاوي ته ښه راغلاست ووېل، د ماين پاکۍ په برخه کې د هغوی له همکاریو څخه یې مننه وکړه او هغوی یې د پروژې پر وخت او په چټکۍ سره پلي کولو ته وهڅول.

په ورته وخت کې، د اومر مؤسسې رئیس، محترم فضل‌الکریم فضل، د ترابي صاحب له همکاریو څخه مننه وکړه او ژمنه یې وکړه، چې پروژه به پر وخت او په بشپړه توګه پلي کړي.

د یادونې وړ ده، چې په پای کې د دواړو لوریو ترمنځ تولټال د درې سوه او اوه اویا زره او یو سل او نه نوي (۳۷۷،۱۹۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه چې د یادې تفاهم‌نامې له مخې به، یاده موسسه ۱۹،۰۰۰،۰۰۰ متر مربع شکمنې جګړه‌ییزې سیمې (BAC) د ماين پاکۍ ټیمونو له لوري پاکې کړي، کشف شوي مهمات به هم د ماين پاکۍ ټیمونو له لوري په خوندي ډول له منځه یوړل شي او پاکې شوې سیمې به په رسمي ډول د کانونو او پټرولیم وزارت مسؤلینو ته وسپارل شي.

## د هلمند ولایت په نادعلي ولسوالۍ کې بېلابېل چاودېدونکي توکي کشف او خنثی شول

د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د نادعلي ولسوالۍ د مارجې بلاک سیمې په یو کباړي دوکان کې یو عدد Morter 60mm مرمۍ او یو عدد Morter wp 81mm مرمۍ کشف، په خوندي توګه انتقال او له منځه یوړلې.

د یادونې وړ ده، چې یاد ریاست تل له خلکو غوښتي چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لیدو په صورت کې دې یاد ریاست ته خبر ورکړي ترڅو د خنثی کولو لپاره یې اړین اقدامات ترسره شي.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د اسلامي رفاه مؤسسې له رئیس سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د اسلامي رفاه مؤسسې له رئیس محترم ذوالقرنین، د پروګرامونو له مسؤل ابراهیم احمد او مل پلاوي سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۳ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د پېښو د مدیریت او د زیانمنو کسانو د لاسنیوي په اړه یې خبرې وکړې.

محترم ترابي صاحب وویل، چې هره اداره خپلې ځانګړې دندې لري او د همدې لړۍ له مخې زموږ اداره په ټول هېواد کې د پېښو د مدیریت او د پېښو له امله زیانمنو شویو کسانو ته د رسېدنې مسؤلیت پر غاړه لري. نوموړي زیاته کړه، له دې امله چې ډېرې مؤسسې له موږ سره همکارۍ کوي، موږ ورته هم په مرکز او هم په ولایتونو کې ټولې آسانتیاوې برابرې کړې دي، تر څو وکولای شي د خلکو ستونزو ته په ښه توګه رسېدنه وکړي. هغه همدارنګه وویل، چې د پروژو او اړینو اړتیاوو لېست، چې په حقیقت کې د خلکو او سیمو اړتیاوې دي، ترتیب شوی او دا چې ستاسو د فعالیت اساسي سکتور د پېښو برخه ده، دغه لېست به له تاسو سره شریک کړو، تر څو یې د ۲۰۲۶ کال په خپلو پروګرامونو کې په پام کې ونیسئ.

په همدې حال کې، د اسلامي رفاه مؤسسې رئیس محترم ذوالقرنین وویل، چې د ترابي صاحب د مدیریت له کاري مخینې سره له پخوا اشنا دی او دا اداره د هغه تر رهبرۍ لاندې په چټک او ښه ډول فعالیت کوي. هغه د مؤسسو سره د دې ادارې له همکارۍ څخه ځانګړې مننه وکړه. همدارنګه د مؤسسې پلاوي وویل چې یاده مؤسسه د پېښو او د کډوالو د لاسنیوي په برخه کې فعالیت کوي، او د ۲۰۲۶ کال لپاره یې خپل پروګرامونه د ملي ادارې لوی رئیس ته تشریح کړل. نوموړي وویل چې په روان کال کې د نغدي مرستو پروګرامونه په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې، د نغدي مرستو موسمي پروګرامونه، د رمضان مرستې، په څو ولایتونو کې د قربانۍ د غوښې وېش، د تورخم په عمري پنډغالي کې د کډوالو ملاتړ، په هرات ولایت کې د اوبو د شبکې جوړول او د روغتیایي کڅوړو وېش، د کونړ ولایت د چپه درې ولسوالۍ د زلزله ځپلو لپاره د سرپناه ترمیم او جوړول او نور اساسي فعالیتونه په خپلو پروګرامونو کې لري چې له دې ادارې سره به په ګډه پلي شي.

نوموړي همدارنګه، د خلکو او سیمو د اړتیاوو لېست ترلاسه کړ او ویې ویل، چې دا پروژې تر ډېره د مؤسسې د پروګرامونو برخې دي او د برابرولو لپاره به خپله وروستۍ هڅه وکړي.

په پای کې، ترابي صاحب د یادې مؤسسې د خدمتونو د قدر په توګه د اسلامي رفاه مؤسسې رئیس ته یوه ډالۍ هم ورکړه.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماشومانو د ملاتړ نړیوالې مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۴۰۷،۶۲۱) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ماشومانو د ملاتړ نړیوالې مؤسسې د اړیکو او بشري چارو له مسؤل، سید محمود پاچا شمس سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۳ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب ووېل، چې د دې ادارې ډېرې فعالیتونه د وقایوي پروژو د پلي کېدو له لارې د پېښو د خطرونو کمولو او همدارنګه زیانمنو شویو خلکو ته د رسېدنې په اړه دي. نوموړي زیاته کړه، چې موږ د خلکو او سیمو د اړتیاوو یو لړلیک ترتیب کړی، او تاسو ته به یې وسپارو، تر څو په خپلو پروګرامونو کې یې په پام کې ونیسئ او په یوه سیمه کې د پروژو دوه ځل پلي کېدو مخه ونیول شي.

په ورته وخت کې، د یادې موسسې د اړیکو او بشري چارو مسؤل، ښاغلي سید محمود پاچا شمس د یادې مؤسسې د فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل، چې دوی د پېښو او کډوالو په برخه کې فعالیت کوي او دا چې د دوی اصلي همکار سکتور له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره ده، نو ټول فعالیتونه به د همدې ادارې سره په همغږۍ او مشورو ترسره کوي او یاد لړلیک به تر ممکنه حد پورې په پام کې ونیسي.

په پای کې د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د څلور سوه او اووه زره او شپږ سوه او یو ویشت (۴۰۷،۶۲۱) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې یاده مؤسسه د ننګرهار ولایت په مومند درې ولسوالۍ کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي:

۱. د ماشومانو د خوندیتوب، معیشت، اوبو او حفظ الصحې ته په پاملرنې سره د طبیعي پېښو د خطرونو د کمولو لپاره د ټولنې د لومړیتوبونو ټاکل او د لومړني اقدام پلان جوړول،

۲. د طبیعي پېښو په ځانګړې ډول د سیلابونو د اغېزو کمولو لپاره د محافظتي زېربناوو لکه استنادي دیوالونو، ګبیوني دیوالونو، چیک‌ډېمونو، پیاده لارو او کانالونو جوړول او پاکول،

۳. د طبیعي پېښو له امله د زیانمنتیا د کچې د کمولو په موخه د ماهرو او غیرماهرو کارګرانو لپاره د کاري فرصتونو رامنځته کول او د کار په بدل کې د نغدو پیسو وېشل.

ادامه در صفحه۱۰

۴. د طبیعي پېښو د غبرګون پلان د فعالېدو پر مهال خوندي سیمو ته د خلکو لېږدول.

۵. د لومړني اقدام پلان د پلي کېدو ارزونه او څارنه، او د ټولنې په کچه د نغدو مرستو وېشل.

۶. د طبیعي پېښو د اغېزو د کمولو په موخه د اقلیمي بدلونونو اړوند د مهمو پیغامونو چمتو کول او د عامه پوهاوي کمپاینونو ترسره کول.

۷. د خلکو د پوهاوي د لوړولو او د لومړني اقدام پلان د تایید لپاره د ورکشاپونو او روزنیزو پروګرامونو ترسره کول.

۸. د ټولنې په کچه د طبیعي پېښو د مخکینۍ خبرتیا او اطلاعرسونې د سیستمونو پیاوړي کول.

۹. په راتلونکو پروګرامونو کې د کارولو لپاره د پروژې د اغېزمنو فعالیتونو او زده کړې ثبتول او مستندجوړول.

۱۰. د پېښو د مدیریت د سیمه ییزو کمېټو لپاره د بیړنیو وسایلو برابرول.

۱۱. د طبیعي پېښو د پېژندنې او د هغو د اغېزو د کمولو په اړه د پوهاوي موادو چاپ او وېشل.

۱۲. د پروژې د فعالیتونو د دوامداري څارنې لپاره د مسؤلو او ښکېلو ادارو لپاره د ټرانسپورټ برابرول.

۱۳. له تمویل کوونکو سره د پروګرامونو د پراختیا لپاره د پایلو شریکول او د مقایسوي مطالعاتو ترسره کول.

۱۴. د پروژې د فعالیتونو د څارنې او ارزونې د ښه‌والي لپاره د تخصصي روزنو ترسره کول.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مقروضیتونو د تثبیت کمېټې غونډه ترسره کړه




د مقروضیتونو د تثبیت په اړه د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د حکم د پلي کولو په موخه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مقروضیتونو د تثبیت کمېټې غونډه د یادې ادارې د مالي او اداري عمومي رئیس، محترم الحاج مولوی محمد علم عالمیار په مشرۍ د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۳ نېټه ترسره شوه.

په دې غونډه کې د یادې ادارې د قراردادي شرکتونو د پورونو د تثبیت په موخه د اړوندو اسنادو هر اړخیزه څېړنه وشوه او د مالي راپورونو، قراردادونو او تصفیوي اسنادو کره‌والی و ارزول شو. همدارنګه د مقروضیتونو د تثبیت بهیر د اصولو او مقرراتو په رڼا کې وڅېړل شو.

د غونډې ګډونوالو د اسنادو د وروستي کېدو، د پاتې پورونو د کره تثبیت او د قانوني لارو له مخې د حل‌لارې په اړه خپل نظرونه وړاندې کړل او د کمېټې غړو ته لازمي سپارښتنې وشوې، تر څو د پورونو د تثبیت بهیر په ټاکلي وخت او منظم ډول بشپړ شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د AWDREO مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۲۵۵،۳۰۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د AWDREO مؤسسې له کفیل، ذاکر حسین احمدي سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۳ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب په دې ناسته کې وویل، چې دې ادارې د مرکز په کچه د مؤسسو لپاره لازمې اسانتیاوې او د فعالیت زمینه برابره کړې ده او همدارنګه د خپلو ولایتي ریاستونو له لارې په ولایتونو کې هم له مؤسسو سره د هغوی د پروژو د پلي کېدو تر پړاو پورې همکاري کوي. نوموړي له مؤسسو وغوښتل، چې خپل کارونه په چټکۍ او شفافیت سره ترسره کړي، تر څو زیات خلک له مرستو برخه من شي.

په همدې حال کې، د یادې مؤسسې کفیل، ذاکر حسین احمدي، له محترم ترابي صاحب څخه مننه وکړه، چې د هغوی ستونزې حتی په نورو ادارو کې هم تعقیب او حل کوي، او د پروژو پر وخت او د شفاف پلي کېدو ژمنه یې وکړه.

په پای کې، د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د دوه سوه او پنځه پنځوس زره او درې سوه او اووه (۲۵۵،۳۰۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې یاده مؤسسه په جوزجان ولایت کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي:

۱. ۱۶،۵۷۴ مستحقو کورنیو ته، چې مخکې د SFL دفتر له لوري سروې شوې دي او د دوو میاشتو خوراکي او نغدي مرستې یې ترلاسه کړې دي، د پاتې یوې میاشتې (د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ میاشتې) خوراکي او نغدي مرستې به د AWDREO مؤسسې له لوري د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په ملاتړ یادو کورنیو ووېشل شي.

۲. د شپږو میاشتو لپاره به د ۲۶،۸۴۷ مستحقو کورنیو سروې او هغوی ته به مرستې ووېشل شي، چې له مخې به یې هره میاشت د AWDREO مؤسسه یادو کورنیو ته د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په ملاتړ خوراکي توکي، هرې کورنۍ‌ته ۵۰ کیلو اوړه، ۴.۵ لیټره غوړي، ۶.۲۵ کیلولوبیا او نیم کیلو مالګه، او یا د بدیل په توګه هرې کورنۍ ته د ۲،۹۰۰ افغانۍ نغدي مرستې ووېشي.

# د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ګدام څخه لیدنه وکړه او د مرستو په مدیریت کې یې پر شفافیت او نظم ټینګار وکړ

محترم الحاج ملا عبد الولي څارنوال (حاجي وارث)، د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین، تخار ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې، د منظم کاري پلان له مخې او په نورو ولایتونو کې د مرسته کېدونکو توکو د ګدامونو د کتنې په لړ کې، د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له رئیس محترم الحاج مولوي عبدالحمید متوکل او مل پلاوي سره یو ځای، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۲ نېټه د یاد ریاست د خوراکي او غیرخوراکي توکو له ګدام څخه لیدنه وکړه.

د دې لیدنې پر مهال، د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ محترم معین له نیږدې څخه د ګدام د ننه موجودو خوراکي توکو د ساتنې وضعیت، ترتیب او تنظیم وڅېړه او د بشردوستانه مرستو د اصولي، شفاف او معیاري مدیریت پر اهمیت یې ټینګار وکړ. نوموړي ووېل چې د خوراکي توکو د زېرمه کولو او وېشلو په بهیر کې د نظم، شفافیت او د حساب ورکونې تأمین د خلکو او همکارو بنسټونو د باور په جلبولو کې بنسټیز رول لري.

محترم حاجي وارث همدارنګه لارښوونه وکړه، چې د معلوماتو د لاسرسي د آسانتیا او د شفافیت د زیاتوالي لپاره دې د ګدام د ننه د خوراکي، غیرخوراکي او نورو مرسته کېدونکو توکو د مشخصاتو بورد نصب شي، څو پکې د توکو ډول، مقدار، کیفیت، د ترلاسه کولو نېټه او د پای نېټه په واضح ډول درج شي. هغه زیاته کړه چې د دغو مواردو مراعت کول د توکو له ضایع کېدو مخنیوی کوي او د وېش پر مهال لا زیات سهولت، دقت او چټکتیا برابروي.

په دوام یې، د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم محترم الحاج مولوي عبدالحمید متوکل، د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ د معین له پاملرنې، لیدنې او لارښوونو څخه د مننې تر څنګ ډاډ ورکړ چې ټولې ورکړل شوې سپارښتنې به په جدي توګه عملي شي او د مرسته کېدونکو توکو د ساتنې، ثبت او مدیریت د سیستم د لا ښه والي لپاره به هڅې دوام ومومي.

دا لیدنه د نظارت د پیاوړتیا، د شفافیت د لوړولو او د پېښو پر وړاندې د آمادګۍ او مبارزې په برخه کې د مدیریتي ظرفیتونو د ښه والي په موخه ترسره شوه او په تخار ولایت کې د بشردوستانه مرستو د سالم او اغېزمن استعمال پر لور یو اغېزمن ګام بلل کېږي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د NOVE ONLUS مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې په هېواد کې د NOVE ONLUS مؤسسې له مرستیال، فیضان احمد کاکړ سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۱ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب ټینګار وکړ چې پروژې باید په چټکۍ او بشپړې روڼتیا سره عملي شي، او ویې ویل چې روان ژمي ته په کتو باید د مرستو کچه لوړه شي، تر څو مستحق خلک وکولای شي د لا زیاتو مرستو څخه ګټه واخلي.

په همدې حال کې، د یادې مؤسسې مرستیال د ادارې له لوی رئیس څخه د هغه د خدمتونو له امله مننه وکړه او تر لاس لاندې د پروژې په اړه د معلوماتو په وړاندې کولو سره وویل چې دا پروژه په ۱۶مه ناحیه کې د ښځو او بې‌سرپرستو کورنیو د ملاتړ په موخه پلي کېږي.

په پای کې، د دواړو لوریو ترمنځ د یو سل او څلور زره او اته سوه او اته (۱۰۴،۸۰۸) ډالرو په ټولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې یاده موسسه د کابل ښار د ۱۶مې ناحیې ۶۴ بې‌سرپرستو کورنیو ته د یو کال لپاره نغدې مرستې ووېشي، په دې توګه چې هرې کورنۍ ته به هره میاشت سل (۱۰۰) ډالر ورکول کېږي. همدارنګه، په همدې موده کې به هغو کورنیو ته چې له جدي ستونزو سره مخ وي او یا روغتیایي پاملرنې ته اړتیا ولري، یو څه اندازه اضافي مرستې هم ووېشل شي.

# د پېښو چارو د انسجام معین د تخار ولایت له مرستیال او سرپرست والي سره وکتل او د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنې او کارکوونکو ته د لارښودنې بهیر یې پیل کړ




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د فني او تخنیکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د خپلو رسمي سفرونو په لړ کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کړنو د ارزونې، څېړنې او لارښودنې په موخه، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۱ نېټه تخار ولایت ته سفر وکړ.

یاد سفر په داسې حال کې ترسره شو، چې د پېښو چارو د انسجام معین د اسلامي امارت د فتحې (۲۴ اسد ۱۴۰۰ هـ ش) څخه تر دې مهال پورې، د لغمان، نورستان، کنړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندي، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزني، زابل، کندهار، اروزګان، هلمند، نیمروز، فراه، هرات، بادغیس، فاریاب، سرپل، جوزجان، بلخ، سمنګان، کندز او بدخشان ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاري بهیر څارنه ترسره کړې ده.

د دې سفر په پیل کې، د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین د تخار ولایت د مرستیال او سرپرست والي محترم الحاج مولوي محمد نادر حقجو سره، د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د رئیس محترم الحاج مولوي عبدالحمید متوکل او ورسره مل پلاوي په شتون کې وکتل او خبرې یې وکړې.

ناسته د قرآن عظیم‌الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه.

د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین د خپل سفر موخه د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د عمومي وضعیت ارزونه، د اسلامي امارت د عالي مقام د فرامینو، احکامو او هدایاتو د پلي کېدو څارنه، د مالي او اداري چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلي کولو څېړنه، د وقایوي، بېړنیو او انکشافي پروژو ارزونه، د بشري مرستو (خوراکي، غیرخوراکي، نغدي او نورو توکو) د وېش د بهیر تعقیب، د ماین‌پاکۍ چارې، نشراتي فعالیتونه او همدارنګه د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل یاده کړه.

نوموړي ټینګار وکړ، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره د خپلو قانوني صلاحیتونو او مسؤلیتونو په چوکاټ کې، د وقایوي پروژو د پلي کېدو، د طبیعي پېښو له امله زیانمنو شویو کسانو ته د بېړنیو مرستو، د خطرونو د مدیریت او د ټولنو د زیان منتې د کمولو په برخه کې هر اړخیزې همکارۍ ته ژمنه ده.

محترم حاجي وارث صاحب، همدارنګه د طبیعي پېښو له امله زیانمنو شویو کورنیو ته د بشري مرستو د شفاف، عادلانه او د کره سروې پر بنسټ د وېش پر ارزښت ټینګار وکړ. هغه زیاته کړه، چې د کارکوونکو د کاري بهیر د څارنې تر څنګ، د هغوی د مسلکي ظرفیت د لوړولو لپاره لازمې لارښوونې وړاندې کېږي او په اړوندو برخو کې روزنیز سمینارونه تنظیم کېږي.

د پېښو چارو د انسجام معین د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې ریاست کاري بهیر یې له نږدې وڅېړه. په دې لیدنه کې، محترم معین صاحب له کارکوونکو سره وکتل، د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د اسنادو، فعالیتونو او کاري بهیرونو د ارزونې ترڅنګ یې، کارکوونکي وهڅول چې د دندې د لایحې سره سم دې چټک، پروخت او اغېزمن خدمات وړاندې کړي.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ډنمارک د کډوالو شورا (DRC) له پلاوي سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاري دفتر کې د ډنمارک د کډوالو شورا (DRC) د پروګرامونو له مسؤلې، هنا روزهالوي، د یادې شورا له مرستیال، ضیا مایار او د اړیکو برخې له مسؤل سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۱ نېټه وکتل او د پېښو مدیریت پر فعالیتونو یې خبرې وکړې.

د غونډې په پیل کې محترم ترابي صاحب د DRC پلاوي ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ د افغانستان زیانمنو او اړمنو خلکو ته د رسېدنې په برخه کې د یادې شورا فعالیتونه وستایل او د مرستو رسولو په بهیر کې یې پر شفافیت او چټکتیا ټینګار وکړ، هغه په خپلو خبرو کې د ادارې له لوري کډوالو ته د رسېدنې او په نورو مهمو برخو کې د ترسره شویو فعالیتونو یادونه وکړه او زیاته کړه، چې موږ د افغانستان د ولس د ستونزو او اړتیاوو لکه، د استنادي دیوالونو، پل او پلچک جوړولو، د زیانمنو ودانیو بیا رغونې، خوراکي او غیرخوراکي توکو برابرولو، د رضاکارانو ګمارنه، د ځغورنې او لټون د ټیمونو روزنې او تجهیز کولو او نورې برخې په کې شاملې دي، په پام کې نیولو سره یو لړلیک ترتیب کړی دی او تاسو ته به یې وسپارو او زموږ غوښتنه دا ده چې تاسو دا لړلیک په خپلو راتلونکو پروژو کې ځای پر ځای کړئ او موږ له موسسو څخه غواړو چې د هر ډول طبیعي پېښو له امله زیانمنو ته مرستې ورسوي ترڅو وکولای شو د خلکو اساسي ستونزو ته پر وخت رسېدنه وکړو.

نوموړي وویل، چې موږ پرته له کوم خنډ او ځنډ څخه له موسسو سره د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک کوو، چې یوازینۍ موخه مو اړمنو خلکو ته د مرستو رسول دی او موږ د هوکړه لیک له لاسلیک کولو وروسته هم د موسسو لخوا ترسره کېدونکو فعالیتونو په ځایونو کې له موسسو سره بشپړه همکاري کوو، ترڅو هغوی پر وخت او چټکتیا سره خپل فعالیتونه ترسره کړي.

ورته مهال د ډنمارک د کډوالو شورا د پروګرامونو مسؤلې، هنا روزهالوي له محترم ترابي صاحب څخه د لیدنې زمینې برابرولو په پار مننه وکړه او د پېښو مدیریت په برخه کې یې د دې ادارې هڅې وستایلې، هغې د یادې شورا له لوري د روان زېږدیز کال لپاره په پام کې نیول شویو د ماین پاکۍ، په درې زونونو کې په ځانګړي ډول په صفري نقطو کې د معیشت برخې، راستنېدونکو ته د رسېدنې، د کونړ زلزله ځپلو ته د رسېدنې، د اوبو شبکو جوړولو، د طبیعي پېښو پر مهال د ډرون ټکنالوژۍ کارولو او نورو اړینو برخو کې د پروژو په اړه مفصل معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې، ستاسو د لړلیک زیاته برخه زموږ د راتلونکو پروژو سره سمون لري او موږ په دې برخه کې همکارۍ ته بشپړ چمتووالی لرو.

په پای کې دواړو لوریو زیانمنو ته د مرستو پر وخت رسولو، د همکاریو او همغږۍ پر دوام او پیاړتیا ټینګار وکړ او د محترم ترابي صاحب له لوري د یادې شورا پلاوي ته د هغوی د خدمتونو په پار ډالۍ ورکړه.

## کشف و خنثی‌سازی یک حلقه ماین ضد وسایط (TC6) در ولسوالی بگرام ولایت پروان




ریاست انسجام و هماهنگی تطهیر ماین اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، بر اساس تماس مردم محل با شماره عاجل (0708606060)، تیم پنجم پاسخ‌دهی عاجل مؤسسه هلوترست را به‌منظور انجام عملیات ماین‌پاکی به قریه گوجرخیل ولسوالی بگرام ولایت پروان بتاریخ ۲۰ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق اعزام کرد.
تیم ماین‌پاکی با هماهنگی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت یادشده، در جریان عملیات یک حلقه ماین ضد وسایط (TC6) را که جان باشندگان محل را تهدید می‌کرد، کشف نموده و پس از انتقال مصئون، آن را به‌گونه کامل از بین برد.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې



د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت اړوند ۱۰۰ زیانمنو او مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۰ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته یوه بورۍ ۵۰ کیلويي اوړه، یو عدد د یونیسف د حفظ الصحې هایجن کیټ، دوه جلده د یونیسف د حفظ الصحی بروشر او ۱۵ جلده له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې معلوماتي بروشر سواد لرونکو زیانمنو خلکو ته د معلوماتو په موخه ورکړل شول.

## د هرات ولایت په شینډنډ ولسوالۍ کې د هاوان یوه مرمۍ کشف او خنثی شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ماین پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست، د بېړنۍ اړیکې شمېرې (0708606060) پر بنسټ، د هلوټرسټ موسسې د بیړني ځواب وینې څلورم ټیم د هرات ولایت د شینډنډ ولسوالۍ خیرمان کلي ته د ماین پاکۍ د عملیاتو لپاره ولېږدوه، چې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ د ماین پاکۍ ټیم په یاده سیمه کې د عملیاتو په ترڅ کې، د هاوان یوه 82 mm مرمۍ چې د سېمې د اوسېدونکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی وو د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۰ نېټه کشف، په خوندي ډول انتقال او له منځه یووړه.

همدارنګه، د ماین پاکۍ له جګړو څخه پاتې ماینونو او چاودېدونکو توکو د احتمالي پېښو د مخنیوي په موخه، د سېمې اوسېدونکو ته د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرام هم ترسره کړ.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۰ سېلاب ځپلو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ډنمارک د کډوالو شورا (DRC) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د دې ولایت په خاک سفید، فراه رود او بکواه ولسوالیو کې د وروستیو سېلابونو له امله ۱۴۰ زیانمنو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۰ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰،۹۳۰ افغانۍ ووېشلې، چې ټولټال یو میلیون او څلور سوه او دوه نوي زره او نه سوه څلوېښت (۱،۴۹۲،۹۴۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادې موسسې څخه منننه او قدرداني وکړه او یاد ریاست ټینګار وکړ چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنو ته د رسېدنې بهیر به دوام ومومي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۳۶۲ خانوادۀ عودت‌کنندۀ اخراج اجباری کمک‌های خوراکی توزیع کرد



بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی ادارۀ ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۳۶۲ خانوادۀ عودت‌کننده که به گونۀ اجباری از ایران و پاکستان اخراج شده و در آن ولایت مستقر گردیده بودند، بتاریخ ۲۰ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت‌های خوراکی فراهم نمود.

در این روند، برای ۱۴۱ خانواده برای هر کدام یک بوری آرد ۵۰ کیلویی، یک بستۀ صحی و ۴ کیلوگرام شکر توزیع شد. همچنان برای ۲۲۱ خانوادۀ دیگر، برای هر کدام دو بوری برنج، یک بستۀ صحی و ۴ کیلوگرام شکر مساعدت گردید.

قابل یادآوری است که این روند در روزهای آینده نیز ادامه خواهد یافت تا شمار بیشتری از خانواده‌های عودت‌کننده از این کمک‌ها مستفید شوند.

## د دایکندي ولایت په پاتو ولسوالۍ کې د خوړ د پاکولو کار پیل شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د محترم مقام د لارښوونې او د دایکندي ولایت له پېښو سره د مبارزې کمېټې د پرېکړې پر بنسټ، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت په پاتو ولسوالۍ کې د یو خوړ د پاکولو کار د یادې ادارې د بودجې په کارولو سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۰ نېټه پیل کړ.

په دې بهیر کې به د ویجاړې شویو سیمو د ترمیم او د سیلابي لارې د پاکولو کارونه ترسره شي.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۱ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د HD افغان موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د تورخم د عمري پنډغالي په سیمه کې د دې ادارې له لوري د کډالو د لنډمهاله هستوګنې لپاره جوړ شوي پنډغالي کې په اجباري ډول راستنېدونکو ۲۱ کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۰ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۳،۰۰۰ افغانۍ او ټولټال ۶۳،۰۰۰ افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

## په بغلان ولایت کې د یو خوړ د کېندلو له کارونو څخه څارنه وشوه



د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست تخنیکي ټیم، د یاد ولایت د ډنډ غوري ولسوالۍ په خواجه الوان سیمه کې د ۱۰۰۰ متره په اوږدوالي، په لوړه کې د ۶ متره، په لاندې برخه کې د ۴ متره او منځنۍ برخه کې د ۵ متره په پلنوالي او د ۲ متره په لوړوالي د یو خوړ د کیندلو له کارونو څخه د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۱ نېټه څارنه وکړه.

دا پروژه چې د ۱،۳۶۴،۹۱۶ افغانیو په ارزښت پلې کېږي او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له لوري تمویل کېږي.

د یادونې وړ ده، چې د دې پروژې په بشپړېدو سره به د خواجه الوان سیمې د اوسېدونکو کورونه او کرنیزې ځمکې د سېلاب له خطر څخه خوندي شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات برای مجروحان آتش سوزی اخیر مساعدت نقدی کرد



بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات، برای سه تن از مجروحان آتش سوزی اخیر بتاریخ ۲۱ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک نقدی انجام داد.

در این روند، در حضور هیئت موظف، برای هر مجروح مبلغ، ده هزار(۱۰۰۰۰) افغانی پول نقد توزیع شد.

# د کندهار ولایت په معروف ولسوالۍ کې د سېلابونو د مخنیوي په موخه د یو محافظوي دېوال د جوړولو چارې پیل شوې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د معروف ولسوالۍ په ګرنګ اډزو کلي کې د سېلابونو له امله د رامنځته کېدونکو خطرونو د مخنیوي په موخه د یو محافظوي دېوال د جوړولو کار په رسمي ډول د ۱۴۴۷ کال د رجب ۲۱ نېټه پیل کړ.

یاده پروژه د ۶۰۰ مترو په اوږدوالی او د ۲ مترو په لوړوالي او ټولټال د دوه سوه شپېته زره (۲۶۰،۰۰۰) افغانیو په لګښت د ګرنګ په سېلابي مانده کې پلي شوه. د پروژې د پرانستنې مراسمو کې د معروف ولسوالۍ مرستیال محترم حافظ قدرت‌الله، د استخباراتو ریاست استازي، د قومندانۍ مسؤلین، مجاهدین، علماي کرام او د سیمې یو شمېر مشرانو او مخورو ګډون درلود.

د پرانیستنې مراسم د قرآن عظیم‌الشان د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شول. وروسته، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وقایې او خطر کمولو انجنیر د مقدماتي وینا پر مهال د پروژې په اړه هراړخیز او بشپړ معلومات وړاندې کړل او له اړوندو ادارو او مسؤلینو یې وغوښتل چې د دې پروژې په بریالي پلي کولو کې دې لازمه همکاري وکړي.

ورپسې، د معروف ولسوالۍ مرستیال ولسوال ګډونوالو ته د ښه راغلاست ویلو تر څنګ، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د دې پروژې د عملي کېدو له امله مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې د ولسوالۍ اداره به د پروژې د پلي کولو پر مهال بشپړه همکاري ولري. نوموړي همدارنګه په راتلونکي کې د ورته عام‌المنفعه پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

په پای کې، مراسم د دعا په ویلو سره پای ته ورسېدل او د محافظتي دیوال د جوړولو عملي چارې په رسمي ډول پیل شوې.

د یادونې وړ ده، چې د دې محافظتي دیوال له بشپړېدو سره به د ګرنګ اډزو کلي، د استخباراتو ریاست، د ولسوالۍ مقام او د معروف ولسوالۍ بازار د روان کال د بارانونو او سېلابونو له احتمالي خطرونو څخه خوندي شي.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵۴ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د CWSA مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت د نورګل ولسوالۍ د مزار درې اړوند په شماش او سهیل تنګي کلیو کې ۲۵۴ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲۰۰ ډالر ووېشل شوي، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره ۵۰،۸۰۰ ډالر ځانګړي شوي وو.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غور برای ۱۱۴ خانواده جهت ترمیم و اعمار سرپناه کمک نقدی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه رفاه اسلامی، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غور با حمایت این مؤسسه، پس از انجام سروی، برای ۱۱۴ خانواده جهت ترمیم و اعمار سرپناه(شلتر) مربوط آن ولایت کمک‌های نقدی توزیع نمود.

در این روند، در حضور مسئولان، به هر خانواده مبلغ ۲۵ ۳۲۷ افغانی به عنوان قسط آخر توزیع گردید که در مجموع برای این تعداد خانواده، مبلغ دو میلیون و هشتصد و هشتاد و هفت هزار و دوصد و هفتاد و هشت (۲ ۸۸۷ ۲۷۸) افغانی پول نقد اختصاص داده شده بود.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۴ زیانمن شویو او مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت د مرکز قلات، ارغنداب، شاجوی او نوبهار ولسوالیو اړوند ۱۰۴ زیانمنو او مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه بوری ۵۰ کیلویي اوړه، ۵ کیلو بوره او نیم کیلو چای ووېشل شول.

## د غزني ولایت په قره باغ ولسوالۍ کې په لاس جوړ شوی یو ماین کشف او خنثی شو




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د ماین پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست، د بېړنۍ شمېرې (0708606060) له لارې ترلاسه شوې اړیکې پر بنسټ، د ایریا ماین پاکۍ موسسې د بیړنۍ ځواب وینې شېږم ټیم، د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ هارون خیلو کلي (مانو کلا) سیمې ته د ماین پاکۍ د عملیاتو لپاره ولیږدوه.

د ماین پاکۍ ټیم د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ، په یاده سیمه کې د عملیاتو په ترڅ کې، یو عدد په لاس جوړ شوی ماین چې له تېرو جګړو څخه پاتې شوی و او د سیمې د اوسېدونکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی و، کشف په خوندي ډول انتقال او له منځه یووړ.

همدارنګه، د ماین پاکۍ ټیم له جګړو څخه پاتې ماینونو او چاودېدونکو توکو د احتمالي پېښو د مخنیوي په موخه، د سیمې اوسېدونکو ته د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرام هم ترسره کړ.

د سیمې اوسېدونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د ماین پاکۍ ټیم د چټک غبرګون څخه مننه وکړه چې د دې خطر په رفع کولو کې یې بېړنی اقدام وکړ.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۶ زیانمنو کورنیو ته خوراکي، غیرخوراکي او نغدې مرستې وویشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت اړوند ۲۶ کورنیو ته چې د طبیعي او غیرطبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته خوراکي، غیرخوراکي او نغدې مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې ۲۲ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۲ جوړه څپلکې او له یاد شمېر څخه ۵ کورنیو هرې یوې ته یو باب خیمه وویشل شوه، همدارنګه، د ۲ شهیدانو ورثه هر یو ته ۲۰،۰۰۰ افغانۍ او ۲ ټپیانو هر یو ته ۱۰،۰۰۰ افغانۍ نغدې پیسې او د شهیدانو ورثه ته یاد خوراکي او غیري خوراکي توکي هم وویشل شول.

## اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث ۴۴عراده موترسایکل جهت تسهیل و انجام به‌موقع امور برای ریاست‌های مرکزی و ولایتی خویش خریداری نمود



بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، این اداره به‌منظور تسهیل در پیشبرد امور کاری و انجام به‌موقع مأموریت‌ها، ۴۴عراده موترسایکل را برای استفاده ریاست‌های مرکزی و ولایتی خریداری نمود.

هدف از تهیه این موترسایکل‌ها، افزایش سرعت دسترسی کارمندان به ساحات شهری، جلوگیری از ضایع شدن زمان در ازدحام ترافیکی در شهرها و جلوگیری از بیرون‌شدن بی‌مورد موترها برای هر کار کوچک می‌باشد؛ امری که علاوه بر کمک به نظم شهری، باعث کاهش مصارف سوخت، هزینه‌های ترمیم و نگهداری وسایط و استفاده مؤثرتر از امکانات بیت المال می گردد.

همچنان استفاده از موترسایکل‌ها در مقایسه با موترها، امکان رفت‌وآمد سریع‌تر در مسیرهای پر ازدهام شهری و ساحات دشوارگذر را فراهم ساخته و زمینه رسیدگی عاجل‌تر به امور را مهیا می‌سازد.

اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث این اقدام را گامی مؤثر در راستای مدیریت بهتر منابع، کاهش هزینه‌ها و افزایش مؤثریت خدمات‌رسانی در مرکز و ولایات کشور می‌داند.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۶ مستحقو کورنیو ته د خوراکي او غیرى خوراکي توکو مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس، الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونو له مخې، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت اړوند ۱۱۶ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱ بورۍ ۵۰ کیلویی اوړه، یو عدد د یونیسف مؤسسې روغتیایي کیټ، دوه جلده د یونیسف روغتیایي بروشرونه او همدارنګه لوستو مرستو ترلاسه کوونکو وګړو ته ۱۵ جلده له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري معلوماتي بروشرونه د معلوماتو د زیاتوالي په موخه ووېشل شول.

## د پکتیکا ولایت د مرکز ښرنې او ارګون ولسوالۍ په عمومي سړک د غره د یوې تر خطر لاندې لاندې برخې د تخریب چارې روانې دي



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د مرکز او ارګون والسوالۍ په دهانه سیمه کې د یوه غره د یوې تر خطر لاندې برخې د تخریت کولو چارې پیل او په چټکۍ سره روانې کړې دي.

یاد غره، چې د سیمه ییزو اوسېدونکو تګ راتګ یې په سړک باندې له جدي ګواښ سره مخ کړی وو د ۱۲۰۰ متر مکعب حجم په درلودلو سره، چې د ښاریانو د خوندیتوب او د پېښو د احتمالي خطرونو د کمولو په موخه یې د تخریب کارونه د اړوندو مسؤلینو تر څارنې لاندې دوام لري.

## د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱،۰۰۰ اجباري اېستل شویو راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه، د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱،۰۰۰ راستنېدونکو کورنیو ته چې له ایران او پاکستان څخه په اجباري ډول اېستل شوې وې او په یاد ولایت کې ځای پر ځای شوې وې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له یاد شمېر څخه ۸۰۰ کورنیو هرې یوې ته یوه بوری ۵۰ کیلویي اوړه، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو تور چای او ۲۰۰ نورو کورنیو هرې یوې ته یوه بوری ۵۰ کیلویي اوړه، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو تور چای او یو د پاکوالي کېټ ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز برای ۱۰۰ خانواده مستحق کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد

به اساس هدایت مقام محترم ریاست عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز پس از انجام سروی، برای ۱۰۰ خانواده مستحق مربوط مرکز آن ولایت کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود.

در این روند که با حضور مسئولین برگزار گردید، به هر خانواده ۵۰ کیلوگرام گندم، چهار جوره بوت، دو جوره زیرپوشی و همچنان وسایل یکبار مصرف آشپزخانه توزیع شد.

مسئولین محلی ضمن نظارت از روند توزیع، تأکید نمودند که این کمک‌ها به منظور رسیدگی به نیازهای فوری خانواده‌های مستحق فراهم گردیده و اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تلاش می‌نماید تا در آینده نیز در کنار مردم آسیب‌پذیر قرار داشته باشد.

## د میدان وردګ ولایت په سیدآباد ولسوالۍ کې د سېلابونو له امله د وېجاړ شویو سړکونو د ترمیم چارې پیل شوې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین په لارښوونه، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د سیدآباد ولسوالۍ په شنیز دره کې د تېرو سیلابونو له امله د وېجاړ شویو سړکونو د ترمیم کارونه پیل کړل.

د سړکونو د ترمیم کارونه د یاد ولایت د پنځمې پلې لوا په ماشینرۍ ترسره کېږي او د ماشینرۍ لپاره یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مقام له لورې ۲۰۰۰ لیتره تیل منظور شوي دي.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسئولین ډاډ ورکوي چې د دې ولایت مرکز او په ټولو ولسوالیو کې به له زیانمنو کورنیو سره د مرستو ترڅنګ به د وېجاړو شویو سیمو او له خطر سره مخ سیمو ته د رسېدنې لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

## د کونړ ولایت په غازي آباد ولسوالۍ کې له خوړونو څخه د ډبرو او ختو د پاکولو او د یو ډبرین دیوال د جوړولو کار دوام لري




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په بېلا بېلو ولسوالیو کې له خوړونو څخه د ختو، ډبرو او شګو د پاکولو کارونه پیل کړي او دا مهال په منظم ډول پر مخ روان دي.

په دې بهیر کې د یاد ریاست له لورې د غازي آباد ولسوالۍ په مریت کلي کې د سیلاب اوبو د تېرېدو لپاره له خوړ څخه د ختو، شګو او لویو ډبرو د پاکولو کار روان دی، چې په همدې خوړ کې له پرتو لویو ډبرو څخه به د ۲۰ متره په اوږدوالي، په لاندې برخه کې د ۵ متره او په لوړه برخه کې د ۲ متره په پلنوالي سره به یو ډبرین دیوال (بولډروال) جوړ شي.

د دې خوړ په پاکولو او ډبرین دیوال په جوړولو سره به د کلي ۶۰ کورونه، کرنیزې ځمکې او نور عامه تاسیسات د سیلاب له خطر څخه خوندي شي.

## د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰۰ اجباري اېستل شویو راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه، د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱،۰۰۰ راستنېدونکو کورنیو ته چې له ایران او پاکستان څخه په اجباري ډول اېستل شوې وې او په یاد ولایت کې ځای پر ځای شوې وې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړ کې هرې کورنۍ ته یوه بوری ۵۰ کیلویي اوړه، ۴ کیلو بوره، نیم کیلو تور چای او یو جوړ څپلکې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان برای ۷۰۰ خانواده متضرر کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد



بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، و بر اساس فیصله کمیته ولایتی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان برای ۷۰۰ خانواده‌ای که در اثر حوادث طبیعی و غیرطبیعی متضرر شده بودند، کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود.

در این روند، به هر خانواده یک بوری آرد ۵۰ کیلویی، نیم کیلوگرام چای سیاه، ۵ کیلوگرام شکر، تابلیت‌های تصفیه آب، یک جلد بروشور معلوماتی راهنمای صحی و یک بسته صحی حاوی ۱۳ قلم مواد توزیع گردید.

## عامه پیغامونه:

38. د یخنۍ او ګرمي څخه د ساتنې په موخه د خپلو څارویو لپاره لازم تدابیر ونیسئ، ځکه چې له دې امله زرګونه څاروي تلف شوي دي

39. د پېښو له رامنځته کېدو مخکې، د خطرونو مخنیوی او کمول خورا آسانه او په کم لګښت ترسره کېږي

40. پېښځپلو ته په بېړه ځانونه ورسوئ، ترڅو د نورو احتمالي خطرونو مخنیوی وشي

41. د هوا پېژندنې اداري وړاندوینې په پام کې ونیسئ ترڅو د پېښو له خطرونو څخه خوندي پاتې شی